سپین کانوال
۱۱ سپتمبر ۲۰۱۶


# د سولې نه بلکه د لوبې د بايللو پيلامه

وروستيو پيښو په ډاګه کړې چې زمونږ د ملت او هيواد برخليک د نورو په لاسونو ټاکل کيږي. که دا جګړه يا سوله، د دولت او يا حکومت بڼه وي او يا کوم بله چاره. ډير ورانډي نه، بلکه يوازې ۱۵ کاله شاته ته ځو او ګورو چې:
په يادو شوو ۱۵ کلونو کې د لومړې ورځې څخه رانيولې يعنې د بن کنفرانس، موقت او انتقالي دولت، ولس مشر، اساسي قانون او مدني قوانين، د نظام د بنې غوره کول، کابينه جوړول او چارې پرمخ وړل، د ټاکنو پايلې، د جرګو جوړيدل او نور هر څه هر څه د بل په لاس کې او د بل چا په اراده او اداره تر سره شوي دي. لنډه دا چې په دې وروستيو کلونو کې يو کار هم د ملت شپه اراده نه دی تر سره شوی او ملت په هره چاره کې بلواکه او بيواکه دی. له شک پرته ټول کورني او بهرني اړخونه په دې خړو اوبو کې د خپل ځان لپاره - ځوک غټ او ځوک واړه ماهيان نيسي.
د قانون جوړونې، نظام جوړونې او غوراوی، د حکومت او کابينې جوړونې په ټولو بهيرونو کې د ملت نقش له صفر سره برابر دی. همدې ټول عام ناوړه او غير مطلوب وضعيت ملت له محروميت، بې واکی او بدمرغی سره مخ کړی دی. هر څه په پروژه يی توګه پرمخ ځي. فساد او زورواکي حاکم دي. سوله او امن نشته او خلک له يوې سيمې څخه بلې ته په ډاډه زړه سفر نه شي کولای، د نا امنيو له امله داخلي بې ځايه شوې کورنی خپلو جونګړو او کډوال خپل ټاټوبې ته نه شي را ستنيدلای، کار نشته تر څو خلک وکولای شي د هغه له لارې د خپلې کورنی ورځنی اړتيا رفع کړي، عدالت نشته چې حق حقدار ته وسپارل شي او دلته زور او زر حق ګټل کيږي، عام ولس د ژوند د تيرولو د عادي شرايطو له درلودلو څخه محروم دی او ټول واک او اختيار او د ژوند مادي نعمتونه د يو څو محدودو اشخاصو او انحصاري کړيو تر منځ لاس په لاس کيږي او د ولس وګړی پر خپل ځای خوار او بې واکه پاته دی.
د يو نوي خبر په اړه دلته غواړم هغې يوې ژوندی کيسې ته چې ما ته په زړه پورې وه او هيڅکله مې له ياده هم نه وځي، اشاره کوم:
په ۲۰۰۳ کال کې د ولس مشرۍ د لومړي دور ټاکنو ته تياری نيول کيده. ايتلافونه جوړيدل او جوړ جاړي کيدل چې پايله يې د واک پر ويش او انحصار ولاړ وه. پر همدې مهال د جنګيالي، اخواني او تاجک استاد رباني چې د افغانستان د اسلامي جمعيت ګوند مشر وه او ډيری پلويان يې تاجکان وو او دموکرات، کپيتاليست او پښتون احدي تر منځ چې د افغان ملت ګوند د يوه اړخ مشر چې ډيری پلويان يې پښتانه وه، د ايتلاف خبره د کليد په اونيزه مجله کې

خپره شوې وه. دا هم ډېره په زړه پورې ده چې نه د دې دواړو ګوندو پلویانو او نه هم کوم بل چا هغه مهال په دې اړه کوم غبرګون وښود. هغه مهال ما ته دا خبره د حیرانتیا وړ وه چې د رباني او احدي ترمنځ ایتلاف جوړیدل څرنګه ممکن دی؟ ځکه چې د دې دواړو سیاسي مشرانو او ور سره تړلو ډلو تر منځ سخت فکري او سلیقوي تضاد شتون درلود. د دې ګونګې پوښتني د حل لپاره مې تل کوښښ کاوه. له یو څه وخت وروسته را ته یو فرصت برابر شو او هغه دا چې د کلید د مجلې خبریال یعني هغه چا چې له دې دواړو ښاغلو سره یې مرکې تر سره کړې وې، مخامخ شوم. ما ته و ویل چې دا مرکه ده تیاره کړې وه. د رباني د نظر په اړه نوموړي خبریال را ته ډېر څه و نه ویل، خو نوموړی مرکه کونکی وایي چې کله یې همدا پوښتنه له ښاغلي احدي څخه وکړه چې ستا او د استاد رباني تر منځ د ایتلاف جوړیدو مشترکه وجه څه ده، نو هغه را څخه غوښتنه و کړه چې زه باید خپله ثبتونکی آله خاموشه کړم. د ثبتونکي آلي د چپ کولو څخه وروسته ښاغلي احدي زما پوښتني ته داسي ځواب را کړ چې امریکا را ته ویلي وه چې د رباني سره ایتلاف وکړه. ما ته د کیسي همدا برخه ډېره خوندوره وه او یو درس مې ترې زده کړ.

اوس یو ځل بیا لږ تر لږه ورته کیسه تکراریږي. د ترلاسه شویو معلوماتو له مخې د ګلبدین حکمتیار په مشرۍ اسلامي حزب د افغانستان له حکومت سره د سولې تړون نهایي کړی او تمه ده چې تر اختر مخکې لاسلیک شي.

"د حکمتیار د شهادت خپرونې په خپله برښنا پاڼه کې لیکلي چې اسلامي حزب به د افغانستان له اسلامي دولت سره نن (شنبه) د سولې موافقه لاسلیک کړي. د ګلبدین حکمتیار په یوې لیکنې کې چې د فیسبوک له لارې د ده ملاتړیو خپره کړې ده لیکلي دي چې دی په افغانستان کې دی. البته په دې مقاله کې دا ادعا هم شوې ده چې د طالبانو د رژیم له ماتې را وروسته دی په ایران کې و او هلته ایران غوښتل چې دی امریکایانو ته وسپاري او بیا دی مجبوره شو چې افغانستان ته راشي او تر ننه په افغانستان کې اوسیږي. په دې موده کې د اسلامي حزب له لورې یو شمیر شرطونه د سولې لپاره وړاندې شول چې په دې شرطونو کې داسې څه نه تر سترګو کیږي چې د افغانستان د حکومت لپاره ستونزمن وي."

په دې لیکنه کې زیاته شوې چې د ګلبدین حکمتیار د اسلامي ګوند پلاوی له څو میاشتو راهیسي کابل ته څو ځله ولاړ او بیرته پاکستان ته ستون شو. دلته هم داسې یوه پوښتنه پیدا کیږي چې که چیرې ګلبدین حکمتیار په افغانستان کې وه نو پلاوی یې له خبرو ورسته بیرته پاکستان ته ولې ستنیده؟ دا د هغوی خپله خبره ده او کره والی یې څیړنو او باوري معلوماتو ته اړتیا لري.

د سولې لپاره د حکمیتیار لومړی شرط دا وه چې ټول بهرني ځواکونه دې له افغانستانه څخه و وځي، زمونږ بندیان دې خوشي، زمونږ پلویانو ته دې ښارګوټي جوړ شي، او له سره دې عامو او رنو ټاکنو ته لاره هواره شي.

له هغه دولت سره چې د پانګوالی نظام استازی دی او د پردیو پر لاس جوړ شوی دی، د حکمتیار په ژبه کفري دی ځکه چې د استکبار په لاس جوړ شوی او د هغوی دلاس آله دی؛ د سولې او جوړ جاړي امکانات نشته. نو اوس څنګه هر څه او ټوله فضا بدله شوه؟ آیا دا غوښتني منل شوې او عملي شوي دي که نه کومه بله خبره رامنځته شوې ده؟ ویل کیږي چې د حکمتیار له لوري د سقاو زوی په ملاتړ کې لیکنو هم مرسته کړې چې له حکمتیار سره د سولې له بهیر سره په حکومت کې د سقاو پلوو عناصرو خواخوږي خپله کړي.

د پورته معلوماتو په رڼا کې دې پایلې ته رسیږو چې یو ځل بیا ورته پیښې تکراریږي او هغه دا چې د یو تکنوکرات چې د پانګوالی نظام استازی دی او یو ټوپکمار چې د فیوډالي نظام استازی دی، د کلکو فکري، سیاسی، اقتصادي او نظامي مخالفتونو د شتون سره سره بیا هم، پرته له دې د مخالف لورې ټول شرطونه ومنل شي، څنګه کولای شي په خپلو منځو کې د سولې لپاره تیار شي. کیدای شي د وخت په تیریدو سره حالات روښانه او پټې خبرې را څرګندی شي

او مطرحو پوښتنو ته ځوابونه پيدا شي، چي کومې هغه پټې ژمنې تر سره شوي چي دواړه لوري يې يوې پريکړې ته سره نژدې کړي دي. د سياست د کلاسيک فرمول له مخې چي دوستي لنډ مهاله او ګټې دايمي ګڼي دا هم امکان لري چي دواړه لورې يې سره نژدې کړې وي او دا چي يو څوک له ډير فکر څخه وروسته ښايي دې پايلې ته و رسيږي او يو ځواب تر لاسه کړي چي: " ماران سره ياران". داسې هم کيږي چي د سطرنج د لوبې دواړه لوري لوبغاړي د ستر بادار په امر دې ته اړ ايستل شوي وي چي له يو بل سره په يوه ميز خبرو ته کښيني او په يو تغر او دسترخوان خواړه وخوري.

په دې منځ کې د عام ولس سره پوښتنه دا ده چي: "خلک بدل شوو که بدل شولو وختونه" او انديښنه يې دا ده چي دا حرکت به د هغوی لپاره کومه ګټه ولري؟

سوله د افغان ولس يو ستر ارمان او اړتيا ده مګر د کابل د حکومت او حکمتيار په يو ځای کيدو او د دوی تر منځ په ډزبندی عادلانه سوله نه شي راتلای، تر حو چي ولس او يا د هغوی رښتيني استازي په دې بهير کې را شريک شوي نه وي. دا همد يادونې وړ ده چي د عادلانه سولې پرته هيڅکله سوکالي، او ثبات نه شي را منځته کيدای او هر ډول پرمختګ ناشونی دی.

انتظار وکړئ او و ګورئ!

څکه چي له يوې خوا ځينو ته د بادرانو له امره سرغړاوی ستره ګناه ده! اوله بله پلوه بلواکي او بيواکي ده.

(۱۹۹۶ کال --- ؟)